مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

اکبر بری

۲۰۲۱/۰۵/۳۱

# ګواښ

ورشه ووایه ظالم ته
سم په ډاګه ښه په زغرده
چي به نه کاندو هیڅکله
تېرپه تېر او هېرپه هېره
*****
موږ له هغه پښته نه یو
چي د چا کرده کړو هېره
موږ له هغه پلاره نه یو
چي له چا به کاندو وېره
*****
ورته ووایه په زغرده
چي ستا واک ابدي نه دی
دغه شپه د بېوسۍ به
شي پر موږ باندي هم تېره
*****
نن یې خوښه چي هرڅه کړي
وارده اختیارده دی
خو بس دومره ورته وایه
چي زموږ وارته ورځي شمېره
****
چي بیا وار که زموږراغی
بیا دي ځان موږ ته هم ټینګ کړي
بیا دي نه کاندي ګیلې دی
چي ما لږوکړه تا ډېره
*****
ورشه ووایه ظالم ته
چي زموږ وارته ورځي شمېره
چي به نه کاندو هیڅکله
تېرپه تېر او هېرپه هېره


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ